مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محب الله زغم

۲۰۲۳/۰۸/۳۱

# ږيرې، انګېرنې

دېرش پينځه دېرش کاله پخوا به په کابل کې يوازې ملايانو او سپين ږيرو ږيرې لرلې. په ځوانانو کې به يوازې هغو کسانو ږيرې پرېښوولې چې صوفي مشربه به وو او يا به يې په صوفيتوب باندې تظاهر کاوه؛ ځکه خو ږيرور ځوانان صوفيان بلل کېدل. هاغه مهال د پهلواني سپورټ نسبتاً عام و، دغه نور رزمي سپورټونه لکه تيکواندو، کانګفو ... چا نه پېژندل. که کوم پهلوان به په دې ډارېده چې داسې نه چې پر خپل زور مغروره شي او خلك ځنې ازار شي؛ نو ږيره به يې پرېښووله او بيا به د ږيرې د حيا لپاره خاکساره ګرځېدل. ږيرورو به د ږيرې اب او درنښت ته پوره پام کاوه. بې ځايه به نه ګرځېدل، له لهو و لعب او له بداخلاقيو به يې ځان ساته. دوی ته د ږيرې خرييل د پيغور په مانا وو. مثلاً په شرط کې به يې ويل چې: ((که مې دا کار ونه کړ؛ نو ږيره به مې وخرييم.)) په دې وخت کې ږيره پر خلکو ګرانه وه؛ ځکه چې د عاجزۍ او تواضع نښه وه.

وروسته چې د شوروي عسکرو پر ضد هيوادنۍ جګړې مذهبي رنګ خپل کړ؛ نو هر جنګيالي ږيره پرېښووه. په دې وخت کې په پاکستان کې ږيره د جهاد، ايمان، مېړانې او مسلمانۍ سيمبول وه؛ خو د هغو خلکو په نزد چې د افغانستان د حکومت تر سيورې لاندې اوسېدل، ږيره د ښوونکو، مامورانو او د هر دولتي کارکونکي د وژلو، د ښوونځيو د سوځولو او د پلونو او د برېښنا د متو د ورانولو مانا پيدا کړه. سره له دې هم ځينې کابليانو ږيرورو ته په درنه سترګه کتل او مجاهدينو ته به يې ((بچه حاجي)) ويل.

کله چې مجاهدين کابل ته ننوتل او په خپلو کې سره ولوېدل؛ نو د ږيرورو کابل ميشتي خواخوږي له خپلې خواخوږۍ پښېمانه شول؛ ځکه چې مجاهدينو د تمې خلاف د دوی شخصي او دولتي شتمنۍ ولوټلې، کورونه يې ونړول، بې ګناه انسانان يې ووژل او ډېر نور ظلمونه يې وکړل. شايد د شورای نظار او جميعت جنګياليو به دغه حساسيت ته متوجه شوي وو، چې ورو ورو يې خپلې ږيرې لنډې کړې. دوی چې د حکومت واګې يې په لاس کې وې، غوښتل چې خپل ظاهر د عامو خلکو په خوښه برابر کړي.

د طالبانو په راتګ سره ږيره جبري شوه او په دې توګه د اجبار او زور په نښه بدله شوه. په دې وخت کې د عوامو او حکومتي کسانو تر منځ فرق په دې کې و، چې دولتي کسانو به تورې يا سپينې پګړۍ په مخصوصې طريقې تړلې؛ خو خلکو به معمولاً سپينې خولۍ پر سرولې. دغه مهال سپينې يا تورې پګړۍ او ږيرې سړي ته کيبل په لاس امربالمعروف والا وريادول، چې انسانان به يې په پوره بې رحمۍ سره وهل. دا مهال عاطفه له ږيرې ښخه کوچېدلې وه او پر ځای يې کبر او غرور پکې ډېره شوي وو.

د کرزي د حکومت په راتلو سره جبري ږيرې وخرييل شوې او جهادي ږيرې هم د دې لپاره چې غربيانو ته ديموکراتې وبرېښي دومره لنډې شوې، چې په مخونو پورې ونښتې. ځينو ځوانانو د فېشن لپاره ډولې ږيرې پرېښوولې، چا به پر زنه باندې فرانسوي ږيره لرله او چا به تر لاندنۍ شونډې لاندې د ګوتې د بند په اندازه ږيره پرېښې وه.

وروسته د طالبانو داسې فلمونه خپاره شول، چې ږيرورو به پکې انسانان په چړو حلالول. اوس چې ځانمرګي بريدونه د مرګ او وژلو پيغام لېږدوي؛ نو د ږيرورو په ليدو سړی بوږنېږي، د مرګ وېره په تبرېږي او په زړه کې د کرکې احساس کوي.

د بيان د ازادۍ په برکت له داسې پېښو هم خبر شو، چې مثلاً د لوګر ولايت د عدليې ريس (چې خامخا به ږيره لري) د تمانچې په زور د يوې پيغلې عزت ولوټه. په دايکندي کې شپېته کلن ملا امام خپله شاګرده په دوا باندې بې سده کړه او بيا يې زنا ورسره وکړه.

ږيره د ساينس له نظره هغه ځيږه ويښته دي چې پس له بلوغه د جنسي هورمونونو په اثر د نارينه وو پر مخ راشنه کېږي. د ساينس نظريه پخوا هم همدا وه او اوس هم؛ خو د ږيرې په اړه د خلکو انګېرنې په پينځه ديرشو کلونو کې ډېرې بدلې رابدلې شوې.



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليږلو مخکې په ځير و لولئ